# د افغانستان اسلامی امــارت
# د کانونو او پټرولـیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۸

نیټه: ۲۹/لړم/۱۴۰۱

# د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوونې خونې له سرپرست سره د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست ناسته





د ا.ا.ا د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، د پالیسی او برنامو مرستیال ښاغلي شیخ ضیاء الرحمن (الاریوبي) په ګډون د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې له سرپرست او لومړي مرستیال الحاج محمد یونس مهمند، د کندهار د پانګونې خونې مشر الحاج محمد صدیق مهمند، مل پلاوي او یو شمېر پانګوالو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دغه لیدنه کې د هیواد د کانونو په برخه کې د پانګونې او یو لړ نورو موضوعاتو خبرې اترې وشوې.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې سرپرست د وزارت له مشرتابه څخه د پانګوالو د ستونزو د حل لپاره مننه وکړه.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د دوی د ستونزو او وړاندیزونو د اورېدو په ځواب کې وویل: چې د کانونو او پټرولیم وزارت په هېواد کې له ټولو پانګوالو ملاتړ او د دوی د ستونزو د حل لپاره هڅې کوي.

همدارنګه یې زیاته کړه، چې په افغانستان کې له وروستیو سیاسي بدلونونو سره له نېکه مرغه په ټولیزه توګه امنیت تامین شوی او ټول پانګوال دې ته هڅوو او بلنه ورته وکوو چې د افغانستان په کانونو کې د پانګونې ښه فرصتونه برابر شوي دي پانګونه وکړي.

# جلسه آفر گشایی معدن سرب و جست ولایت غور برگزار شد

کانونو او پترولیم وزارت اوونیزه



جلسه آفر گشائی چهار بلاک معدن سرب و جست ولایت غور چهار شنبه مورخ 1401/8/18 تحت ریاست شیخ الحدیث شهاب‌الدین (دلاور) سرپرست وزارت معادن و پترولیم با حضور داشت مولوی هدایت الله بدری سرپرست وزارت مالیه، نماینده گان وزارت های اقتصاد، صنعت و تجارت، انرژی و آب، اداره محیط زیست، معینان، تعدادی از روسا وزارت مربوطه، رسانه‌ها و شرکتهای داوطلب دایرگردید.

شیخ‌الحدیث شهاب‌الدین (دلاور) سرپرست وزارت معادن و پترولیم ضمن ابراز خوش‌آمدید به مهمانان، در رابطه به ظرفیت و مساحت معادن متذکره و پروسه اکتشاف، استخراج، پروسس، به اشتراک کننده گان معلومات ارائه کرده گفت: در آینده نزدیک ولایت غور به یک مرکز صنعتی و تجارتی تبدیل خواهد شد و همچنین افزود: تمام پروسس معادن در داخل کشور صورت خواهد گرفت و در این پروسه شرکت برنده خواهد شد که از تجربه کاری، ظرفیت تخنیکی بالا و مالی برخوردار باشد.

همچنان درین جلسه کمیته موظف پس از آفرگشایی، کار خود را روی پروسه ارزیابی پروپوزل ها و اسناد 10 شرکت داوطلب برای چهار بلاک سرب و جست ولایت غور آغاز نمود.





کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د ملګرو ملتونو سرمنشي له ځانګړې استازې سره ولیدل



د ا.ا.ا د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله (حلیمي) او د پلان او پالیسی مرستیال شیخ شیاءالرحمن (الاریوبي) د ملګرو ملتونو سرمنشي ځانګړي استازي او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې یکشنبه ۱۴۰۱/۸/۲۲ نېټه سره ولیدل.


د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر د افغانستان د کانونو په اړه وویل: چې کانونه د هیواد ملي سرمایه ده او په دې کې د افغانستان د هر وګړي حق دی. د اسلامي امارت په راتګ سره د کانونو تولې برخې ځار او په تخنیکي توګه استخراج کېږي او په ټول هیواد کې ملي حاکمیت او تولیز امنیت تامین شوی دی. په یاده ناسته کې د افغانستان په کانونو کې د پانګونې په بېلابېلو موضوعاتو او هیواد ته له بهر څخه د افغانانو د راستنېدو په اړه هم خبرې وشوې.

ښاغلي شیخ صاحب همدا راز زیاته کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د خلکو د هوساینې لپاره کار کوي او غواړي چې د دوی لپاره د ښه ژوند کولو شرایط برابر کړي، تر څو له بهر هیوادونو څخه ټول مهشت افغانان په داده زړه خپل هیواد ته راستانه شي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي ځانګړي استازي د یاد وزارت له مشرتابه څخه د دوی د مېلمه پالنې په پار مننه وکړه او زیاته یې کړه: چې واقعاً هم په دې وروستیو کې مثبت کارونه تر سره شوي او په دې باوري یو چې د ستاسو مشرۍ لاندې به هیڅ ډول فساد ونشي. په اخیر کې د ملګرو ملتونو سرمنشي ځانګړي استازي په راتلونکې کې د لا زیاتو همکاریو په اړه ډاډ ورکړ.

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د بدخشان ولایت کاني ظواهر




افغانستان د جیولوژیکي جوړښت او جغرافیایي موقعیت له ارخه په هغو کم شمېر هیوادونو کې راځي چې پراخه طبیعي زیرمې لري. دا زیرمې د افغانستان په ټولو ولایاتو کې شتون لري، چې په متوازنه توګه یادې زیرمې د عوایدو په دوامداره راټولېدو او ترلاسه کولو کې خوراه مهم ارزښت لري. او همدارنګه، د دې کانونو له استخراج او استفادې به د افغانستان اقتصادي او پراختیایي څرخ د دیر وخت لپاره په خوځښت وي، چې یاد خوځښت پخپله د افغانانو د اقتصادي ودې او پراختیا لامل کیږي.

بدخشان ولایت چې د بې شمېره کاني ظواهرو درلودونکی دی، د افغانستان په شمال ختیځ کې موقعیت لري. د دې ولایت مرکز د فیض آباد ښار دی، چې د شمال لخوا د آمو سیند او تاجکستان هېواد، د ختیځ لخوا د چین او پاکستان، د سویل لخوا د نورستان، د سویل لویدیځ لخوا د پنجشیر او د لویدیځ لخوا د تخار ولایت سره ګډه پوله لري. همدارنګه د احصأیي ملي اداري د معلوماتو پربنسټ د دې ولایت نفوس (1,054,087) تنو ته رسیږي.

د افغانستان د جیولوجی سروې او د بدخشان ولایت د کانونو ریاست د معلوماتو پر بنسټ یاد ولایت د مختلفو طبیعي زیرمو او کاني ظواهرو سرچینې لري، چې تر دې د مه یې (۷۷) سیمې په جدول کې ثبت شوي.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# په لوګر ولایت کې کرومایټ کان پروژې د ټولنیزو خدمتونو له لارې د یو روغتیایي مرکز د جوړېدو چارې پیل شوې.



د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالي په مغول خېلو کې د روغتیایي مرکز د جوړولو د بنسټ ډبره د 80 زره ډالرو په ارزښت د لوګر ولایت د کانونو رئیس، د محمداغې ولسوال او د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس په حضور کې د کرمایټ کان کېندنې ستانه بابا قراردادي شرکت له لوري کېښودل شوه. د یاونې وړ ده چې د ټولنیزو خدمتونو پروګرام کې د یاد کان ستانه بابا استخراجي شرکت په ژمنو کې د یو روغتیایي مرکز جوړول وو، چې د لوګر صحت عامې په همغږۍ سره به د دوه کلونو په جریان کې چارې بشپړې شي

مسوول مدیر:
محمد فرهاد
(عبیدي)

د امتیاز خاوند:
د کانونو او
پټرولیم وزارت

ترتیب او تنظیم :
استاد نجیب الله
(رحیمي)

طرح او ډیزاین:
محمد فرهاد
(عبیدي) او مطیع

ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf